# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۹ د زمري ۲۱مه | د ۲۰۲۰ د اگسټ ۱۱مه | ۵۷۹یمه گڼه


## ځېره

۴ مخ

### جوزف پولیتزر



پولیتزر د ژونالېزم او ادبیاتو په برخه کې د «پولیتزر جایزه» بنسټ اېښودونکی دی. دی وایي، دا جایزه هغو کسانو ته ورکړئ چې حقیقي ژورنالېزم ته ژمن وي، ملي گټې ورته لومړیتوب ولري او په پوره مینه خپله دنده پر مخ وړي.

## د بین الافغاني مذاکراتو پر لور؛

### ولسمشر غني د څلور سوو طالب زندانیانو د خوشي کولو فرمان لاسلیک کړ



۳

## سوداگرۍ وزارت: روان میلادي کال د هوايي دهلېزونو له لارې صادرات ۲۹ سلنه ډېر شوي دي



سوداگرۍ او صنایعو وزارت چارواکي وايي چې بهر ته د هوايي دهلېزونو له لارې د افغانستان د صادراتو په کچه کې ۲۹ سلنه زیاتوالی راغلی دی. د یاد وزارت له لوري په خپرې شوي خبرپاڼه کې راغلي، د کرونا ویروس د مخنیوي په موخه د نړۍ ډېرى هېوادونو یو شمېر احتیاطي تدابیر ونیول چې د افغانستان په گډون یې د ټولې نړۍ پر سوداگرۍ منفي اغېزه درلوده، خو د دوی تازه معلومات ښیي چې په وروستیو کې د هوايي دهلېزونو له لارې بهر ته د افغانستان د صادراتو په کچه کې د تېر کال د همدې مودې په پرتله ۲۹ سلنه زیاتوالی راغلی دی. د یاد وزارت په خبره، د هوايي دهلېزونو له لارې له هند او متحده عربي اماراتو سره سوداگري عادي حالت ته راغلې او تمه ده چې په لنډ مهال کې له نورو هېوادونو سره هم دغه چاره بېرته عادي حالت ته راوگرځي.

### د بین الافغاني خبرو پیل او دوې ستونزې

۲ مخ

### د مشورتي لويې جرگې پایلې او لاسته راوړنې

۲ مخ

### بین‌الافغاني خبرې؛ ټاکونکی پړاو!

۳ مخ

## کورنیو چارو وزارت: تېره اونۍ په جگړو او وسله والو نښتو کې ۱۷۵ ملکیانو ته مرگ ژوبله اوښتې ده

کورنیو چارو وزارت وايي چې په تېره یوه اونۍ کې د وسله والو طالبانو په بریدونو او نښتو کې ۱۷۵ ملکي وگړو ته مرگ ژوبله اوښتې ده.

د یاد وزارت ویاند طارق آرین تېره ورځ په همدې تړاو په یوه ویډیویي پیغام کې ویلي چې په دې موده کې د طالبانو له خوا ۸۰ ملکي وگړي وژل شوي او ۹۵ نور ټپیان شوي دي.

د نوموړي په وینا، دغه مرگ ژوبله د طالبانو په یرغلیزو، ډله‌ییزو بریدونو، چاودنو او نورو امنیتي پېښو کې اوښتې ده، خو وسله والو طالبانو تر اوسه د کورنیو چارو د وزارت د ویاند د دې ادعا په تړاو څه نه دي ویلي، خو تر دې مخکې یې دا ډول ادعاوې رد کړې دي.

دا په داسې حال کې ده چې په تېر لوی اختر کې د دریو ورځو لپاره اوربند هم شوی و، خو له هغې وروسته یوځل بیا د هېواد په گوټ گوټ کې جگړو او وسله‌والو نښتو زور اخیستی چې پر افغان ځواکونو او طالبانو سربېره پکې گڼو ملکیانو ته هم مرگ ژوبله اوښتې ده.

تر ډېره دغه مرگ ژوبله په مخامخ وسله والو نښتو، هوايي بریدونو، د سړک د غاړې چاودنو او ځانمرگو بریدونو کې اوښتې ده. حکومت د روان تاوریخوالي پړه پر طالبانو اچوي، خو طالبان بیا دغه ادعا نه مني او وايي چې د حکومت د سولې پر وړاندې خنډونه جوړوي او په لوی لاس د جگړې د اوږدېدو هڅه کوي، خو د لویې جرگې له وروستۍ پرېکړې وروسته خلک هیله من شوي چې په هېواد کې به سرتاسري اوربند رامنځته شي.

## د سولې بین الافغاني خبرې باید د افغانانو په مشرۍ او مالکیت ترسره شي



۵ مخ

## خلیل‌زاد: انتظار داریم که تا چند روز دیگر روند رهایی زندانیان تمام شود



زلمی خلیل‌زاد، فرستادۀ ویژۀ امریکا برای صلح افغانستان در پیامی در صحفۀ تویترش از قطع‌نامۀ لویه‌جرگه و تصمیم رئیس‌جمهور غنی از بهر رهایی زندانیان باقی‌ماندۀ طالبان، استقبال کرد.

آقای خلیل‌زاد افزود: «ما انتظار داریم که تا چند روز دیگر، روند رهایی زندانیان تمام شود، سپس هیئت مذاکره کنندۀ حکومت به دوحه سفر کند و روند گفتگوهای میان افغانان به‌گونۀ فوری، آغاز شود.»

او گفت که امریکا به دنبال یک افغانستان با حاکمیت، یک‌پارچه و دموکراتیک است که آن هم در صلح در این کشور و با همسایه‌گانش است و تهدیدی برای جهان، نباشد.

او یک بار دیگر تأکید کرد که امریکا از مردم افغانستان در ۱۹ سال گذشته حمایت کرده است، اکنون نیز از مرد و زن افغان از بهر دستیابی به صلح‌پایدار که مدت‌هاست مشتاق آن هستند، به حمایت ادامه خواهد داد.

این در حالی‌ست دو روز پیش، لویه‌جرگه مشورتی صلح با پخش قطع‌نامه‌یی رهایی ۴۰۰ زندانی طالب را تأیید کردند.

این قطع‌نامه با ۲۵بند با حضور رئیس‌جمهور غنی، حامد کری، رئیس‌جمهور پیشین کشور و شماری از چهره‌های سیاسی، پخش شد.

در این قطع‌نامه، اعضای لویه‌جرگه از پروسه صلح برای رسیدن به صلح‌پایدار و با عزت که منجر به امنیت و ثبات در کشور گردد، استقبال و حمایت کردند.




## دریـغ

# د بین الافغاني خبرو پیل او دوې ستونزې

د مشورتي لویې جرګې د پرېکړې پر اساس ولسمشر غني د پاتې څلور سوو بندیانو د خوشي کولو فرمان لاسلیک کړی دی. په دې سره اوس اټکل دی چې په راتلونکې اونۍ کې به د سولې بین الافغاني خبرې په دوحه کې پیل شي. ټاکل شوې د قطر ځانګړی استازی کابل ته راشي او له دې ځایه افغان پلاوی په یوه ځانګړې قطري الوتکه کې دوحې ته ولېږدوي.

په قطر کې د طالبانو او افغان پلاوي ترمنځ د خبرو د اجنډا په تړاو ډېر معلومات نشته، خو ویل کېږي چې د راتلونکو خبر پر وخت، ځای او اجنډا به خبرې کېږي. د دې تر څنګ به اوربند او د پاتې طالب بندیانو د خوشې کولو موضوع هم د لومړنۍ غونډې احتمالي اجنډا ګڼل کېږي. له کابله ورغلي پلاوی به هڅه وکړي چې پر طالبانو اوربند ومني، خو طالبان به هڅه وکړي چې د زرګونو نورو طالب بندیانو خوشې کولو ته لاره هواره کړي او له کابله ورغلی پلاوی پر دې چاره قانع کړي. که حکومت د یو مهالوېش له مخې د طالب بندیانو خوشې کول ومني، نو دا هم شونې ده چې طالبان اوربند ته زړه ښه کړي او د سولې په برخه کې یو مهم پرمختګ وشي.

له دې سره سره دوې ستونزې په مخ کې دي:

لومړی: د سولې په راتلونکو بین الافغاني خبرو کې یوه مهمه او اساسي ستونزه دا ده چې له کابله ورتلونکی پلاوی د پرېکړې صلاحیت نه لري. دا چاره د بین الافغاني خبرو پر کار منفي اغېز کوي، ځکه له یوه اړخه به له کابله ورغلی پلاوی واضح دریځ نه شي نیولی او له بله اړخه به د هرې خبرې او پرېکړې لپاره له کابل سره مشوره کوي او یا به کابل ته راځي او دلته به له خبرو وروسته بېرته طالبانو ته ځوابونه وروړي. دا چې طالبان به بیا هغه ځوابونه مني او که نه، معلومه نه ده. په دې ډول پرېکړه او نهایي پایلې ته رسېدل، ډېر ستونزمن شوي دي. دا چاره به هم وخت ضایع کړي او هم به د سولې پر خبرې منفي اغېز وکړي. له همدې امله حکومت باید پر دې چاره له سره غور وکړي او آن که د دې لپاره په ټاکل شوي پلاوي کې بدلون ته هم اړتیا وي، باید دا کار وشي.

دویمه: د دواړو اړخونو د دریځونو ترمنځ هم ډېر توپیر شته. د نظام له ډول نیولې تر اساسي قانون، د تېرو اتلسو کلونو لاسته راوړنې، له اسلام څخه تفسیر او ګڼو نورو مسایلو کې د دواړو اړخونو ترمنځ ډېر واټن دی. له همدې امله سخت او پېچلي بحثونه په مخ کې دي. له بده مرغه شته توپیرونه ډېر دي، نو ځکه به یې حل نه یوازې ستونزمن وي، بلکې ډېر وخت به واخلي. د دې لپاره چې دا ډول مسایل حل شي، پکار ده ځینې معیارونه وټاکل شي. یو معیار ښایي دا وي چې په لویو اختلافي مسایلو کې پرېکړه ولس ته پرېښودل شي. د بېلګې په ډول که حکومت پر جمهوریت او طالبان پر امارت ټینګار کوي او پایلې ته رسېږي، نو لاره یې دا ده چې څو انتخابونه ولس ته وړاندې شي او په یوه ټولپوښتنه کې باید ولس د نظام یو ډول انتخاب کړي. له همدې امله پکار ده چې په لومړنۍ غونډه کې د راتلونکو پرېکړو پر معیارونو هم بحثونه وشي او راتلونکې لاره هواره شي.

# د مشورتي لویې جرګې پایلې او لاسته راوړنې

لیکنه: مشتاق رحیم

د افغان ولسمشر لخوا د اختر مبارکۍ پیغام په لړ کې د سولې یوې بلې مشورتي لویې جرګې د رابللو اعلان د یو ستر بحث لامل وګرځېد. د بحث سرټکی د جرګې بنسټیزه موخه چې د طالبانو له لېست سره سم د هغو وروستیو څلور سوه زندانیانو د خلاصون موضوع وه، چې د حکومت د وینا مطابق په حق العبدي قضایاوو کې زندانیان وو.

حقوق پوهان په دې نظر وو چې حق العبد قضایاوې بخښل او د دغه ډول زندانیانو ازادول که د ولسمشر واک نه دی، نو مشورتي جرګې هم له حقوقي اړخه دا کار نه شي تر سره کولی.

بله خوا ځینې خلک په دې نظر وو چې ښایي حکومت غواړي د جرګې دایرولو په تکل کې د سولې بهیر وځنډوي او غوښتنه یې دا وه چې لکه څنګه چې ۴۶۰۰ زندانیان د سیاسي پرېکړې پر بنسټ له بنده آزاد شول، پاتې څلور سوه زندانیان دې هم په هماغه ډول پرېښودل شي.

وېره دا هم وه چې د کرونا وبایي ناروغۍ د خطر له امله به دا ډول ستره غونډه څومره شونې وي؛ خو له ټولو شننو، اندونو او نیوکو سره سره افغان ولسمشر محمد اشرف غني وتوانېد چې په ډېره لنډه او تنګه موده کې نه یوازې دا چې د سولې مشورتي لویه جرګه دایره کړېګ بلکې د بندیانو د خلاصون تر څنګ نورې سیاسي موخې هم تر لاسه کړي.

د سولې مشورتي لویې جرګې پرېکړه لیک

د لویې جرګې په ترڅ کې ولسمشر غني وتوانېد چې حق العبدي او نورو جدي قضایاوو کې ښکېلو زندانیانو د خلاصون پړه له ځانه لرې او د لویې جرګې له لارې د ولس غاړې ته ور واچوي.

دا چې ولسمشر د زندانیانو د خلاصون په لړ کې جدي سیاسي او ټولنیز فشار سره په داسې حال کې مخامخ و، چې له حقوقي اړخه د یادو زندانیانو د خلاصون په برخه کې حقوقي محدودیت سره مخامخ و، د مشورتي لویې جرګې وړاندیز هغه ته ځان له مسوولیت څخه د خلاصون دلیل په ګوتو ورکړ.

د زندانیانو د خلاصون په اړه د مشورو په پلمه افغان حکومت ځینې نورې موخې هم تر لاسه کړې. په دې لړ کې تر ټولو مهمه لاسته راوړنه د سولې بهیر لپاره د ولسمشر لخوا د تازه ملاتړ تر لاسه کول وو.

که وکتل شي، د جرګې د مشورتي وړاندیزونو په لړ کې ډېری ټکي داسې وو چې په تېره مشورتي جرګه کې هم یاد شوي وو، خو د دغو ټکو داسې مهال تکرار چې تمه کېږي ډېر ژر بین الافغاني مذاکرات پیل شي، ولسمشر غني او د هغه لخوا ټاکل شوي مذاکراتي ټیم ته د بحث لپاره تازه مواد په لاس کې ورکړل.

د لویې جرګې په ترڅ کې ولسمشر غني وتوانېد چې حق العبدي او نورو جدي قضایاوو کې ښکېلو زندانیانو د خلاصون پړه له ځانه لرې او د لویې جرګې له لارې د ولس غاړې ته ور واچوي.

د اوربند غوښتنه، بهرنیو هېوادونو په افغانستان کې د مداخلې لاس لنډول، ولسواکۍ ته احترام، د اوسني نظام ساتنه، د اتباعو حقوق او په هغه کې د ښځو په ځانګړې توګه یادونه هغه موارد دي چې د دې جرګې له پرېکړه لیک څخه د مذاکراتو مېز ته وړل کېدی شي.

دا تازه ولسي ملاتړ به حکومت ته نه یوازې له طالبانو سره؛ بلکې د نړیوالې ټولنې او په دې لړ کې له امریکا سره د مباحثې او مذاکرې لپاره هم دلایل په لاس ورکړي.

د سولې مشورتي جرګې دایرولو او بیا په پای کې د هغې د ټولو پرېکړو د منلو او عملي کولو په ترڅ کې ولسمشر غني وتوانېد چې د سولې په اړه خپل ښه نیت هم ولس سره شریک کړي.

د زندانیانو د خلاصون په لړ کې د څو ځلې خنډ له کبله د افغان ټولنې ځینو برخو د سولې په اړه د ولسمشر په نیت د شک اظهار هم کولو.

آن مشورتي جرګه یې د سولې د بهیر د ځنډولو یوه پلمه یادوله. جرګې هغو ټولو نیوکو او شکونو ته ځواب ویلو سره د ولس په منځ کې یو وار بیا د حکومت د سولې د سیاست په اړه نېک نظر پیدا کولو کې هم مرسته وکړه.

د جرګې په خوله مخالفې غوښتنې ردول

د سولې مشورتي لویې جرګې په لړ کې ولسمشر اعلان وکړ چې د سولې د بهیر په اوږدو کې به د اړتیا په صورت کې بیا هم لویې جرګې ته مراجعه وکړي. که حکومت د مذاکراتو په لړ کې داسې غوښتنو او یا هم فشارونو سره مخ کېږي چې دوی یې منلو ته چمتو نه وي، افغان ولسمشر بیا ځلې د لویې جرګې کار ته کارولی شي او له دې لارې له ځان څخه فشارونه لرې کولی شي.

د سولې مشورتي لویې جرګې افغان ولسمشر ته ښه موقع برابره کړه چې په راتلونکې کې د دې ډول جرګې په مرسته هغه غوښتنې چې حکومت ورسره موافق نه وي، د ولس په خوله رد کړي.

د مشورتي لویې جرګې یوه بله ستره لاسته راوړنه د مطرحو افغان سیاستوالو په یو ټغر راټولول وو. د سولې روان بهیر په لړ کې ښایي دا لومړی ځل وي چې په دومره غټ شمېر سیاسي شخصیتونه په یوه خوله وي او د حکومتي کړنلارې او د جرګې له پایلو یې حمایت کړی وي.

که وکتل شي، د جرګې د مشورتي وړاندیزونو په لړ کې ډېری ټکي داسې وو چې په تېره مشورتي جرګه کې هم یاد شوي وو.

په جرګه کې د پخواني ولسمشر حامد کرزي ګډون چې د افغانستان د سیاسي مشرانو د یوې سترې کتلې ملاتړ له ځان سره لري، د سولې مشورتي لویې جرګې د پرېکړو اعتبار خورا لوړ کړ. همدا راز د ولسمشر پخواني واک شریک او د مصالحې د ملي شورا مشر ډاکټر عبدالله، کریم خلیلي، د ملي شورا مشرانو او داسې نورو شخصیتونو ګډون د پراخې سیاسي اجماع هغه تشه هم ډکه کړه چې په تېرو کابو دوو کلونو کې موجوده وه.

دې تشې د سولې بهیر په لړ کې حکومت له خورا ډېرو ستونزو سره مخامخ کړی و؛ د افغانستان د سیاسي ټېر ملاتړ به حکومت ته د مذاکرې په مېز او له نړیوالو همکارانو سره د مباحثې په لړ کې خورا ډېره برلاسي ورکړي.

جرګه په ډېر لنډ او تنګ وخت کې په داسې حال کې دایره شوه چې له امنیتي پېښو هم خوندي پاتې شوه. په دومره لنډه موده کې د جرګې دایرولو له کبله حکومت په دې هم وتوانېد چې په خپله کاري ورتیا نقدونه هم نفې کړي.

په داسې ډول د جرګې تر سره کېدو سره حکومت خورا ډېر وستایل شو. دا ستاینې کولی شي په حکومت د ولسي باور زیاتوالي لامل شي چې بیا هم بین الافغاني مذاکراتو کې حکومت د دغه ولسي باور په مرسته له پیاوړي دریځه ګډون وکړي.

افغان حکومت څومره امریکا ته ورنږدې شوی؟

د سولې مشورتي جرګې پرېکړې د نړیوالې ټولنې په ځانګړې توګه د امریکایي ادارې له تمې سره سمې اعلان شوې. دا چې امریکا غواړي د سولې بهیر په چټکۍ سره مخ ته لاړ شي څو د روان زېږدیز کال په پای کې په امریکا کې تر سره کېدونکیو د ولسمشرۍ ټاکنو څخه د مخه د افغانستان د شخړې د حل په اړه ښه پرمختګونه وشي، د جرګې لخوا د بندیانو د خلاصون پرېکړه او سم د لاسه د طالبانو لخوا مذاکراتو کې د ګډون د چمتووالي اعلان هغه څه دي چې د ټرمپ اداري غوښتل.

له دې چارې سره به افغان حکومت وتوانېږي چې خپل ستراتیژیک ملګري او د افغان سولې مخکښ هېواد امریکا ته لا ور نږدې شي او د دواړو اړخونو تر منځ به د بین الافغاني مذاکراتو لپاره د باور فضا لا پسې پیاوړې شي. د باور فضا غځېدل د بین الافغاني مذاکراتو په بریا کې خورا جوت رول لوبولی شي.

په ټوله کې د سولې مشورتي جرګه چې د څلور سوه طالب زندانیانو د خلاصون په پلمه جوړه شوې وه، بریالۍ ارزول کېدی شي. که له یوه اړخه حکومت په جرګه کې په ښه شوې ځینې موخې تر لاسه کړې، د جرګې له کبله د بین الافغاني مذاکراتو په لار کې د پرتو خنډونو لرې کېدل د افغان ولس لپاره یو ډېر ښه زېری دی.

که څه هم د افغانانو خپلمنځي خبرې د روان سولې بهیر تر ټولو پېچلې پړاو دی، چې خپل خنډونه او ځنډونه به لري، خو دغه مرحلې ته رسېدل پخپله ستره لاسته راوړنه ده.

د افغانانو خپلمنځي خبرې به د سولې روان بهیر کې یو نوی پیل وي او هیله ده چې د شخړې دواړه اړخونه به د جوړجاړې اصل ته په درناوي هڅه وکړي چې د کړکېچ پر ځای تفاهم ته لومړیتوب ورکړي.

# د ګاونډیو ولایتونو کندو؛

## د حکومت د غفلت له امله د غزني چهاردېوال پروژه کې چور ګډ دی

لیکنه: آرین کریمزی

د غزنې ولایت سوېل ته په شل کېلومترۍ کې د سردې بند تر څنګ د چهاردېوال په نامه پروژه د حکومت د نه پاملرنې له امله د تاریخ تر ټولو ناوړه وضعیت تجربه کوي. دا پروژه چې په ۱۳۴۷ لمریز کال کې ګټې اخیستنې ته سپارل شوې، په هغه وخت کې پکې دریو زرو کسانو فعالیت کاوه او تر نوي د ډېرو کلیو ۶۰ زرو کسانو ترې ګټه اخیسته؛ خو د مجاهدینو له واک ته رسېدو سره ورته توجه کمه، فعالیت یې صفر او په بشپړه توګه لوټ شوه.

دا پروژه چې د هر ډول زراعتي او حیواني فارمونو ظرفیت تر څنګ درې اویا زره جریبه حکومتي ځمکه لري، د سردې بند له ښي او چپ کانال څخه خړوبېږي او د اوبو په برخه کې هیڅ ډول ستونزه نه لري.

د یادې پروژې د مسوولینو په خبره، که له دغې پروژې څخه په سمه توګه ګټه واخیستل شي، نو نه یوازې د غزني او ګاونډیو ولایتونو اوسېدونکو لپاره پکې د کار زمینه برابرېږي؛ بلکې د ګاونډیو ولایتونو غله دانه هم تامینولی شي.

د اندړو ولسوالي په زړه کې پرته دا ارزښتناکه پروژه چې د مجاهدینو او طالبانو په وخت کې ورته هیڅ توجه ونشوه، د میلیاردونو افغانیو په ارزښت پکې موجود توکي یا لوټ او یا هم تر باران، واورو او لمر لاندې وراسته شوي دي.

د جمهوري نظام په راتګ سره یې یو ځل بیا توجه جلب کړه چې له ریاست څخه امریت ته بدله او تشکیل یې ارزښت ته په کتو په خپل حال پاتې شو؛ خو د ولسمشر غني له واک ته رسېدو وروسته یې هرڅه له شپېته سلنې شلو هغې ته راټیټ شول.

غني ژمنه کړې وه چې اوبه به کنټرولوي، نوي بندونه به جوړوي، کرنې ته به توجه ډېروي؛ خو د سردې بند او چهاردېوال پروژه لا هم د خدای تمې ته پاتې ده او د یادې ولسوالۍ اوسېدونکي له تندې او لوړې پاکستان او نورو هېوادونو ته په سردې بند او چهاردېوال پروژه تېرېږي او له هغې خوا یا پوډریان او یا هم ټوپک په لاس د همدې پروژې ورانولو ته را استول کېږي.

سره له دې چې غزنې ته د ولسمشر غني لومړي سفر سره یاد ولایت لومړی درجه شو، چې کاري ظرفیت یې باید لوړ او اداري پراختیا یې موندلې وای؛ خو نه یوازې ژمنې عملي نه شوې؛ بلکې له بده مرغه په ټولو ادارو کې وضعیت ورځ تر بلې خرابېږي، په ځانګړې توګه د سردې پروژې تشکیل کم شوی، اوبه یې بې ګټې بهېږي او پروژه ورځ تر بلې په کنډر بدلېږي.

ولسمشره بندونه مه جوړوه؛ شته ګوله مو خوله کې پرېږده!!!

# بین‌الافغاني خبرې؛ ټاکونکی پړاو!

لیکنه: ذاکر جلالي

د طالبانو پنځه زره بندیان د دوحې له هوکړې سره سم په لسو ورځو کې یانې د ۱۳۹۸ لمریز کال د کب تر ۲۰مې خوشې نه شول. وروسته له ډېرو انکارونو، پلمو او ګڼو سرو او شنو کرښو له یادولو بالاخره ډاکټر اشرف غني ومنله چې پاتې ۴۰۰ تنه طالب زندانیان به خوشې کوي. له دې کار سره د بین الافغاني خبرو پر لار اساسي خنډ له منځه ولاړ او تمه ده چې د یوې اونۍ شاوخوا بین الافغاني خبرې د قطر په پلازمېنه دوحه کې پیل شي.
تر اوسه لا د بین الافغاني خبرو پر اجنډا بحث نه دی شوی. د افغان حکومت مرکچي پلاوی پر اوربند ټینګار کوي. طالبانو هم له اوربند انکار نه دی کړی؛ خو وایي چې د اجنډا برخه به اوربند هم وي. په بین الافغاني خبرو کې به اصلي او اساسي بحث د افغانستان د راتلونکي نظام بڼه وي.
اوس پوښتنه دا ده چې څه ډول نظام کولای شي هم ګڼو افغان لوریو ته د منلو وي، هم طالبانو ته، هم د افغانستان دیني او ملي ارزښتونه خوندي کړای شي او هم له نړۍ سره د تفاهم او شراکت ګډه ژبه ولرلای شي. دا مهمه مسئله ده. د بین الافغاني خبرو تر ټولو مهمه او اساسي مسئله به همدا وي. د نظام بڼه ډېره مهمه ده. دې سره د راتلونکي افغانستان خیر او شر تړلی دی.
یو ټکی واضح دی. د بین الافغاني خبرو اړتیا او پر یوه نوي ټولمنلي نظام بحث او سلا یو شی ښیي چې اوسنی سیاسي جوړښت چې بُن (ډسمبر ۲۰۰۱) کې یې بنسټ کېښودل شو، منتفي دی. که څه هم افغان حکومت وخت نا وخت ټینګار کوي چې «جمهوریت سره کرښه» ده. اوسنی سیاسي جوړښت ځکه منتفي دی چې که دا د منلو وای، نو د بین الافغاني خبرو اړتیا به نه وه. پخپله بین الافغاني خبرې د نوي سیاسي جوړښت اړتیا جوتوي. د دې تر څنګ امریکایانو له طالبانو سره د دوحې په هوکړه کې راتلونکي کې «نوي افغان اسلامي حکومت» سره خپلې اړیکې تعریف کړې دي. دا هم په وضاحت سره ښیي چې اوسنی جوړښت نفې شوی دی.
طالبانو له ۱۹۹٦ تر ۲۰۰۱ ز کاله د «افغانستان اسلامي امارت» تر سرلیک لاندې واکمني وکړه. د طالبانو د وزیرانو شورا «سرپرسته شورا» ګڼل کېده. مانا یې همدا وه چې دا مقطعي او لنډمهاله جوړښت دی. ځینې طالب مشران وایي چې له جګړې وروسته په پام کې وه چې د ټولو افغانانو په اشتراک به یو نظام رامنځ ته کېږي؛ خو د امریکا یرغل هر څه بدل کړل. دا ښیي چې «امارت» هم کوم حتمي انتخاب نه دی.
اوس د عنوانونو پر ځای پکار ده چې افغان لوري پر داسې یوه جوړښت سلا شي، چې دیني ارزښتونه پکې وپالل شي او هم د نظام لمن پراخه وي چې ټول افغانان په کې ځانونه وګوري. موږ اکثراً له تپلو سیاسي جوړښتونو سره مخ وو. اوس پکار ده چې افغان لوري د افغانستان اړتیاوو ته په پام سره پر یوه جوړښت سلا شي. موږ د شرقي او درېیمې نړۍ مسلمان هېواد یو، کوم څه چې د ډیموکراسۍ په نامه په تېرو نوولسو کلونو کې دلته پلي شول، زموږ شاوخوا سیمه او اسلامي نړۍ کې یې بېلګه نه لرو. که چاته دا ډیموکراسي «سره کرښه» وي، نو د ولسي جرګې او ولسمشرۍ تېرې ټاکنې دې لږ په خلاصو سترګو وڅېړي. د افغانستان د ولسمشرۍ تېرو ټاکنو وښوده چې ولس اوسنی جوړښت تحریم کړ.
زموږ شاوخوا د نظامونو ډېرې بېلګې شته. کمونیستي چین له لیبرال اقتصادي جوړښت سره نن د نړۍ دویم اقتصاد دی او تر ټولو چټک غوړېدونکی اقتصاد دی. منځنۍ اسیا کې د جمهوریتونو په نامه مطلق استبدادي نظامونه واکمن دي. زموږ لوېدیځ کې ایران دی. د ولایة فقه مذهبي سیاسي جوړښت یې له غربي ډیموکراسۍ سره داسې اغږلی چې یو نوی حکومتي ماډل یې جوړ کړی. د ایران همدغه نظام له ۱۹۷۹ ز کال راهیسې د سیمې یو مهم لوبغاړی دی. همداسې پاکستان د فدرال پارلماني نظام بل ماډل دی چې د دولت رسمي دین اسلام دی او مذهبي اقدار تر یوه ځایه پکې ساتل کېږي.
دا څو نمونې وې. موږ په نړۍ کې ګڼ نظامونه لرو چې هر چا د خپل هېواد او خلکو له اړتیا او شرایطو سره سم یو ماډل جوړ کړی او تر یوه بریده خدمات وړاندې کوي. هېڅ سیاسي جوړښت ایډیال نه دی. اوس چې د افغانستان سیاسي لوري یو ځل بیا د نظام‌جوړونې فرصت پیدا کوي، پکار ده چې له بې‌ضرورته عنوانونو څخه تېر شي او د بې‌ځایه سرو او شنو کرښو پر ځای د افغانستان د خلکو دیني او ملي ارزښتونه او ورسره په یوویشتمه پېړۍ کې د حکومتدارۍ اړتیاوې په پام کې ونیسي او یو ځواب‌ورکوونکی جوړښت رامنځ ته کړي. موږ په تېرو څلورو لسیزو کې له کمونیستي ناتار نیولې تر د مجاهدینو او طالبانو حکومتونو او ډیموکراسۍ پورې ټول تجربه کړل. دغه اوږده موده او د نظامونو ادلون بدلون باید د بین الافغاني مذاکراتو لوریو ته کافي درسونه ولري.

# د بین الافغاني مذاکراتو پر لور؛

## ولسمشر غني د څلور سوو طالب زندانیانو د خوشي کولو فرمان لاسلیک کړ



ولسمشر تر اوږده ځنډ وروسته تېره ورځ په رسمي توګه د څلور سوو طالب بندیانو د خوشي کولو فرمان لاسلیک کړ. د ارګ له مطبوعاتي دفتره په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې دغه پرېکړه یې د مشورتي لویې جرګې د غوښتنې پر بنسټ کړې ده. د دې پرېکړې له مخې به د طالبانو پاتې څلور سوه بندیان خوشې کېږي او بین الافغاني مذاکرات به پیلېږي. بلخوا سرچینې وایي چې قطر به ډېر ژر خپل یو استازی او یوه الوتکه د افغان مذاکراتي ټیم د بېولو لپاره راولېږي. تر څنګ یې په افغانستان کې سیاسي ګوندونه د لویې جرګې او ولسمشر د پرېکړې هرکلی کوي.
د امریکا او طالبانو ترمنځ د هوکړې له مخې، باید افغان حکومت او طالبانو په خپلو کې شپږ زره زندانیان تبادله کړي وای. په دې لړ کې به طالبانو د افغان لوري زر کسه او افغان حکومت بیا د طالبانو پنځه زره کسه بندیان خوشي کول، خو د طالبانو او افغان حکومت تر منځ د څلور سوو بندیانو پر سر اختلاف رامنځته شو چې دا اختلاف مشورتي لویې جرګې ختم کړ. د دغې جرګې د غوښتنې او پرېکړې په اساس پرون ولسمشر غني د طالبانو د پاتې څلور سوه بندیانو د خوشي کولو فرمان هم لاسلیک کړ. د ارګ له مطبوعاتي دفتره په خپره شوې اعلامیه کې راغلي:
((جمهور رییس د سولې مشورتي لویې جرګې د پرېکړې په تعقیب چې د هغې د پرېکړه لیک دویمې مادې د طالبانو د پاتې بندیانو خوشې کول تایید کړي وو، د طالبانو لخوا د غوښتل شوي پنځه زره کسیز نوملړ کې د شاملو محکومینو د بښنې فرمان لاسلیک کړ)).
ولسمشر تر دې وړاندې ویلي وو چې د بندیانو تر خوشي کېدو به درې ورځې وروسته بین الافغاني مذاکرات پیلېږي. د دې تر څنګ تېره ورځ یو شمېر حکومتي سرچینو رسنیو ته بیا دا هم ویلي وو چې د روانې میلادي میاشتې ۱٦مه به په دوحه کې د طالبانو او افغان حکومت مخامخ خبرې پیلېږي. د وسله والو طالبانو ویاند سهیل شاهین هم وړمه ورځ له رسنیو سره په خبرو کې ویلي وو چې په راتلونکې یوه اونۍ کې دوی بین الافغاني خبرو ته تیار دي.
له دې سره یو شمېر سرچینې وایي چې قطر د افغان حکومت پرېکړې ته منتظر دی. د سرچینې په خبره، همدا چې افغان حکومت د طالبانو بندیان خوشي کړي، نو د قطر یو استازی له یوې الوتکې سره کابل ته راځي او د بین الافغاني مذاکراتو لپاره ټاکل شوی پلاوی به دوحې ته رسوي. د سرچینې په خبره: ((قطر هېواد د ولسمشر غني پرېکړې ته منتظر دی. د ولسمشر غني له خوا د ۴۰۰ بندیانو له خوشي کېدو سره سم به د قطر دولت خپل خاص استازی او یوه ځانګړې الوتکه کابل ته را ولېږي څو مذاکراتي ټیم دوحې ته انتقال کړي)).
له دې سره جوخت یو شمېر سیاسي ګوندونه د افغان حکومت د پرېکړې او د مشورتي لویې جرګې له تصامیمو هرکلی کوي. دوی وایي، د دې وخت دی چې اوس ژر تر ژره مخامخ خبرې پیل شي، تاوتریخوالی کم شي، دایمي اوربند وشي او په افغانستان کې د دایمي ثبات راتګ ته لار هواره شي. د سولې او پرمختګ اسلامي حزب مشر عزیزالله دین محمد وایي، په لومړي سر کې داسې شکونه موجود وو چې ګواکې حکومت هڅه کوي د مشورتي لویې جرګې په مرسته سوله وځنډوي، خو خبره برعکس شوه او د سولې په لار کې پاتې خنډونه له منځه لاړل.
د دین محمد په خبره، دمګړۍ د افغانستان د سولې پروسه نړیوال او سیمه ییز ملاتړ لري او د نړیوالې ټولنې اجماع ورباندې موجوده ده، نو له همدې امله د دې اړتیا ده چې حکومت او طالبان فرصت ضایع نه کړي. هغه هیله څرګنده کړې چې ژر تر ژره بین الافغاني خبرې پیل شي او په دې توګه په هېواد کې روانه جګړه پای ومومي.

# <u>راپورونه:</u> له پراخو لاریونونو او فشارونو وروسته د لبنان حکومت استعفا وکړه

په لبنان کې له وروستۍ خونړۍ چاودنې او اعتراضونو وروسته د دغه هېواد حکومت استعفا وکړه. د لبنان لومړي وزیر حسان دیاب ویلي چې دا پرېکړه یې د خلکو او لاریونوالو له پرله پسې غوښتنو وروسته کړې ده. نوموړي ویلي « هېواد باید د روڼتیا پر لور ولاړ شي او دا زموږ مسوولیت دی چې د خلکو پر لور ولاړ شو، نو له همدې کبله د لبنان حکومت خپله استعفا اعلانوي».
له دې سره هممهاله اوس د لبنان پارلمان چې یوه برخه یې مسیحیان جوړوي، دنده لري چې د دغه هېواد لپاره نوی لومړی وزیر معرفي کړي.
په ورته وخت کې نړیوالې ټولنې له لبنان سره د بیروت د پېښې په خاطر د څه باندې دوه نیم سوه میلیونو یورو د مرستې ژمنه کړې ده. دا په داسې حال کې ده چې تېره سه شنبه د بیروت په بندر کې درنو چاودنو نږدې ۱٦۰ کسان ووژل او څه باندې شپږ زره کسان یې ټپیان کړي دي.
دغو چاودنو د بیروت د بندر شاوخوا سیمې له منځه وړې او ګڼو انسانانو ته یې پر مرګ‌ژوبلې سربېره، ډېر لوی اقتصادي زیانونه هم اړولي دي.
په ورته وخت کې د فرانسې د ولسمشر ایمانویل مکرون او د ملګرو ملتونو د سرمنشي د یوې مرستیالې امینه محمد په کوربه‌توب وړمه ورځ له لبنان سره د مرستو لپاره بېړنۍ آنلاین غونډه جوړه شوه چې پکې ۳٦ ګډونوالو ولسمشرانو او چارواکو له لبنان سره د مرستو ژمنه وکړه.
د فرانسې ولسمشر ایمانویل مکرون زیاته کړې، باید ټول سره لاس ورکړي ترڅو لبنان ته ژر او په موقع مرستې ورسېږي. هغه ویلي: «هدف دا دی چې نن په چټکۍ او موثره توګه حرکت وشي، څو زموږ مرستې څومره چې ممکنه وي، په موثره توګه د لبنان خلکو ته ورسېږي.»
د فرانسې او ملګرو ملتونو په ګډ کوربه توب د وړمې ورځې په غونډه کې یو شمېر لوېدیځو هېوادونو، اروپایي ټولنې او عرب‌لیګ هېوادونو له لبنان سره د مرستو ژمنه وکړه چې د مکرون په خبره، د ټولو ژمنه شویو مرستو اندازه ۲۵۲ میلیونه او اووه لکه یوور ته رسېږي چې په ډالرو دوه، لکه کم درې سوه میلیون ډالره کېږي.
د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ هم له لبنان سره د مرستې د دغې بېړنۍ غونډې ګډونوال و. هغه تر غونډې وروسته د لبنان له حکومت غوښتي چې د بیروت د بندر د درنو چاودنو په اړه دې بشپړې او شفافې پلټنې وکړي. ټرمپ همدارنګه په لبنان کې د روانو لاریونونو او د اصلاحاتو له راوستلو خپل ملاتړ ښودلی دی.

## د کتاب خبرې


# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

◉ لیکوال: رابرټ کیوساکي
◉ ژباړن: علي‌الله متوکل

**دریمه برخه**

**ستاسو راتلونکی اوس پیلېږي!**

**نولسم څپرکی**




مایکل گلاډویل په خپل کتاب The Story of Success کې لیکي:((په هر کار کې د ښې بریا لپاره لس زره ساعته سخت کار کولو ته اړتیا ده. د زده کړو پر مهال بیل گېټس پروگرامینگ ته لس زره ساعته وخت ورکړ. بېټل برېټانوي د موسیقۍ ډلې د ځان مشهورولو لپاره د همبورگ په یوه کلب کې په اونۍ کې اووه ورځې هره ورځ اووه ساعته او ټولټال لس زره ساعته موسیقي وغږوله او بیا مشهوره شو.))

گلاډویل وایي:((د لس زره ساعته په اړه جالبه خبره دا ده چې دا قانون هر ځای د عملي کولو وړ دی. تر هغو د سطرنج لوبې غوره لوبغاړی نشې کېدای چې لس زره ساعته تمرین ونه کړې. بوریس بکر لومړنی جرمنی دی چې د ویمبلډن د سیالیو اتلولي یې خپله کړې ده. بوریس له شپږ کلنۍ تر اوولس کلنۍ پورې د ټېنیس لوبې تمرین وکړ، بیا یې د اتلولۍ لقب وگاټه.))

لس زره ساعته، حساب وکړه. که په اونۍ کې پنځه ورځې او هره ورځ اته ساعته کار وکړې، نو د لس زره ساعته کار لپاره پنځه کاله زحمت گالې.

له نېکه مرغه، شبکه یي بازارموندنه د سطرنج په څېر وخت نه غواړي او نه بوریس بکر یا بل گېټس کېدو ته اړتیا شته. ضرور نه ده چې د نړۍ غوره کس شې؛ خود تجارتي مهارتونو زده کړې ته خامخا اړتیا لرې. دا پوره پنځه کاله یا په اونۍ کې هره ورځ اته ساعته کار نه غواړي؛ خو که نافعاله گټه درکوونکې لویه کمپنۍ غواړې، نو د وخت ځانگړې کولو له لارې له ځان سره مرسته وکړه.

زه تر اوسه د پنځه کلن پلان له پالیسۍ څخه کار اخلم.

کله چې وغواړم پر ملکیتونو د پانگونې په څېر نوي څه زده کړم، نو ځان ته د زده کړې لپاره پنځه کاله وخت ورکوم. کله چې وغواړم په سهامي شرکتونو یا سټاک مارکېټ کې پانگونه وکړم، نو بیا هم ځان ته د زده کړې لپاره پنځه کال وخت ورکوم. ډېر خلک یو ځل پانگونه وکړي، یو څو ډالره تاوان ووینې او بیا له دې کاره لاس په سر شي. دوی تر لومړۍ تېروتنې وروسته هرڅه پرېږدي. همدا لامل دی چې دوی د دې کار په زده کړه کې ناکام دي. ناکامي د بریالیتوب د پروسې برخه ده. ناکام خلک فکر کوي چې بریالي خلک کله هم نه ناکامېږي او په دې فکر هم وي چې له تېروتنو څخه باید ځان وساتل شي. تېروتنې د اړینې زده کړې لپاره خورا ارزښتناک فرصت دی.

زه اوس هم د تېروتنو لپاره ځان ته پنځه کاله وخت ورکوم. زه پوهېږم، څومره تېروتنې چې وکړم او له هغو درس واخلم، هغومره هوښیارېږم. که په پنځو کلو کې تېروتنه ونه کړم، تر تېرو پنځو کلو به هېڅ نه یم هوښیار شوی. یوازې به پنځه کاله عمر راباندې تېر شوی وي.

**د هېرولو لپاره وخت ته اړتیا ده**

په دې تجارت کې چې د زده کړې لپاره څومره وخت ته اړتیا ده، د هېرولو لپاره هم هغومره وخت ته اړتیا ده. له تنخوا لرونکې دندې او ازاد کار سره د خلکو د لېوالتیا یو دلیل له خپل کار سره ورو ورو عادت کېدل او په هغه کې د ارامۍ احساس کول دي. که رښتیا شي، په دې کې هېڅ د ارامۍ احساس نشته. له تا مالیه اخیستل کېږي، ستا وخت، ستا نه دی. ډېر وخت له داسې خلکو سره کار کوې چې تا ته هېڅ خوند نه درکوي... . له خورا ډېرو اړخونو څخه تنخوا لرونکې دنده او ازاد کار د ارامۍ احساس نه لري. خو خلک ځکه د ارامۍ احساس پکې کوي چې کلونه کلونه یې دلته وخت تېر کړی وي او اوس یې دا زده کړي وي چې څنگه په دې کونجونو کې له خلکو سره واوسي.

شبکه یي بازارموندنې ته په ننوتو دا هرڅه بدلېږي. هغه تجربه چې تاسو په تنخوا لرونکې دنده یا ازاد کار کې ترلاسه کړې وي، په شبکه یي بازارموندنه کې چندان ارزښت نه لري. مشخص کاري ساعتونه، د ساعتونو په اندازه تنخوا، د مدیرانو او رییسانو سلسله مراتب، محدود کاري صلاحیتونه، مشخص پېرودونکي، کاري محدودیت او د کار ځانگړی ځای هغه تلکونه دي چې یوازې په تنخوا لرونکې دنده کې تر سترگو کېږي. دا هرڅه په دې تجارت کې نشته.

مخکې مې وویل، که مو د پلور په برخه کې کار کړی وي، نو پخوانۍ زده کړې له یاده وباسئ. ځکه په شبکه یي بازارموندنه کې هغه څه نه دي مهم چې تاسو یې کوئ، بلکې د هغه څه کول مهم دي چې د څو چنده کېدو امکان ولري.

که د کارگرو په منظمولو کې تجربه لرئ، مجبور یئ یو څه تجربې مو هېرې کړئ. ځکه د بازارموندنې په شبکو کې نه خلک په کار گومارئ او نه یې له کاره لرې کوئ. او نورو ته دا لارښوونه هم نه کوئ چې څه وکړه او څه مه کوه. دا بېخي نوی څیز دی. دا د یوویشتمې پېړۍ تجارت دی. د پرمختگ لپاره باید ځینې پخواني عادتونه هېر کړئ.

له وخت څخه مو د زده کولو او هېرولو لپاره گټه واخلئ. ځینو خلکو ته د تجارت او پانگونې لور ته د تللو لپاره تر ټولو سخت کار د تنخوا لرونکې دندې یا ازاد کار د زړو عادتونو پرېښودل وي. په دې دوو برخو کې چې مو څه زده کړي وي، د هغو په هېرولو به بدلون را وستل ډېر اسانه او چټک شي.

**دوام لري...**

# جوزف پولیتزر

شفیق امیرزی



جوزف پولیتزر امریکایي لیکوال او خبریال دی. هغه ځکه په نړۍ کې مشهور دی چې د پولیتیزر په نامه یې د یوې مشهورې نړیوالې او معتبرې جایزې بنسټ اېښی دی. دا جایزه تر ډېره د ادبیاتو، هنر، خبریالۍ او نورو بشري علومو په برخه کې ورکول کېږي. جوزف پولیتزر د خپل وخت مشهور، شتمن او د ښه مدیریت نمونه خبریال و. هغه د خپل ژوند پر مهال څو ورځپاڼې واخیستې، د امتیاز خاوند یې و، شتمن شو او له خپلې شتمنۍ یې د ژورنالېزم او خبریالۍ د ودې او پرمختگ په برخه کې گټه پورته کړه.

جوزف پولیتزر د ۱۸۴۷ز کال د اپرېل په لسمه دې نړۍ ته راغلی دی. پلار یې د هنگري او مور یې هم یهودي مذهبه المانۍ وه. دی د هنگري په مکو ښار کې زېږېدلی، خو بیا امریکا ته تللی دی او ټول فعالیتونه یې په امریکا کې مخ ته وړي دي. اوولس کلن و چې غوښتل یې له امریکایي پوځ سره یو ځای شي. ده دې څه مودې لپاره د امریکا په ځینو ښارونو کې له پوځ سره د یو ځای کېدو لپاره هڅه وکړه. پلار یې شتمن کس و، تر یوه وخته یې د ده ملاتړ کاوه، خو په نظامي مرکزونو کې تر څو میاشتو سرگردانۍ وروسته دی بریالی نه شو، چې پوځ ته لاره پیدا کړي. ده غوښتل د امریکا د کورنیو جگړو پر مهال مهم پوځي وي، خو د سترگو کمزوري او د ده د بدن کمزوري د دې کار خنډ شوه.

د ځوانۍ کلونه یې سخت وو، ویل کېږي کله چې په پوځ کې ونه منل شو او بېرته کور راگرځېدو، نو د ځینو کارونو فکر ورسره پیدا شو. ده غوښتل ازاد کارو بار ولري، په څو ښارونو وگرځېد، خو ناکام شو، بېرته را وگرځېد او شته پیسې یې هم خلاصې کړې. ویل کېږي چې خپل کور ته د راگرځېدو پر وخت دومره پیسې نه وې ورسره چې د اورگاډي کرایه پرې کړي، نو اړ شو چې خپل د غاړې دسمال وپلوري او ځان ورسوي. بیا په یوه هوټل کې د خدمې په توگه کار پیلوي او غواړي گزاره وکړي. همدلته له ځینو کسانو سره پېژني، له لیکوالانو سره مخامخ کېږي او ځینې خبریالان دلتهویني.

ده څو کاله مطالعه وکړه، انگلیسي یې زده کړه او د بېکارۍ پر وخت به یې حقوق او نور سیاسي نظریات لوستل. له څو کاله بېکارۍ او پرله پسې هڅو وروسته بریالی کېږي چې په ۱۸۶۹ز کال کې په ویسټ ولېش ورځپاڼه کې کار پیل کړي. کار یې دومره لوی او مهم نه و، خو هر لوی گام له وړو حرکتونو پیلېږي. ده هڅه کوله اړیکې یې پراخې شي، له امریکایي او نورو چارواکو سره یې اړیکې ښې کړې. په ورځپاڼه کې یې د خپل لیاقت له مخې ځان ته ځانگړی ځای پیدا کړ او لیکل به یې کول. ده ته د رېل پټلیو د نوو جوړېدونکو برخو په اړه د راپور چمتو کولو دنده سپارل شوې وه، په دې یې هم پوره کار کاوه او هڅه یې کوله پر وخت او دقیق معلومات وړاندې کړي. همدې مسئلې د ځینو سیاسیونو پام هم ور اړولی و. ځینو ده ته اجازه ورکړې وه چې له کتابتونونو او موادو یې استفاده وکړي او خپل فعالیتونه مخ ته یوسي. دی له همدې ځایه له جمهوري غوښتونکي گوند سره یو ځای کېږي.

په دې وخت کې ده ډېر تمایل د جمهوري غوښتونکي گوند افکارو ته درلود او په دې گوند کې یې ځان ته د ځای پیدا کولو هڅه کوله. د دې گوند نوماند هوراس گریلي و، په ټاکنو کې ودرېد، دوی یې ملاتړ وکړ، خو ماتې یې وخوړه او له دې سره جوخت جمهوري غوښتونکی گوند هم مات شو. په ۱۸۶۹ز کال کې گوند منحل شو او پولیتزر له ډیموکراتانو سره یو ځای شو.

ده د سیاسي فعالیتونو تر څنگ د خبریالۍ په برخه کې خپل فعالیت ته ادامه ورکوله. دی وایي، له دې مسلک سره یې مینه وه او هڅه یې کوله اصلي ژورنالېزم او خبریالي خپل ځای پیدا کړي. ده په دې موده کې لږ او ډېرې پیسې هم پیدا کړې وې او په ۱۸۷۲ز کال کې یې په پست ورځپاڼه کې په ۳۰۰۰ امریکایي ډالر یوه ونډه واخیسته. یو کال وروسته یې خپله ونډه په ښه گټه وپلورله. په ۱۸۷۹ز کال کې یې په یوه وخت کې دوې ورځپاڼې سنت لوئیس دیسپیچ او سنت لوئیس پست وپېرلې. دا دواړه یې سره یو ځای کړې او یوه واحده ورځپاڼه یې چاپ کړه. دا ورځپاڼه د دې سبب شوه چې خپل افکار په ښه توگه نورو ته ورسوي. پیاوړی مدیریت وکړي او ځان ته د هغه وخت په حاکم سیاسي چاپېریال کې د ډاډ وړ ځای پیدا کړي.

پولیتزر په همدې توگه ورځ تر بلې د ژورنالېزم او ورځپاڼو په کاروبار کې شتمن کېدو. پیسې یې پیدا کولې او خپل کار ته یې پراختیا ورکوله. په ۱۸۸۲ز کال کې شتمن شوی و او یوه لویه ورځپاڼه یې په لوړه بیه واخیسته. ده د نیویارک ورلډ ورځپاڼه په هغه وخت کې په ۳۴۶زره امریکایي ډالره وپېرله. دا پیسې په هغه وخت کې ډېر شی وې. د پولیتزر تر پېرلو مخکې ورځپاڼې هر کال نږدې څلوېښت زره ډالر زیان کاوه، خو نوموړي دا هر څه بدل کړل.

دی ډېر ماهر کس و. کتل یې چې لوستونکي څه غواړي او کوم فرصتونه شته چې باید گټه ترې واخلي. خلاوې به یې پیدا کولې، له منځه یې وړلې، د خلکو د خوښې وړ داستانونه یې ورځپاڼو ته راوستل، سیاسي فعالیتونه یې په پوره ځیرکۍ مخ ته وړل. ډېر افشاکوونکی کار یې کاوه، له ډېرو مسایلو یې پرده پورته کوله، تحقیقي ژورنالېزم یې کاراوه او خلکو ته یې نوي موضوعات وړاندې کول. ده له ځان سره په ورځپاڼه کې تکړه خبریالان گومارل، په گډه یې کار کاوه او د ټولو چارو مستقیم مدیریت یې په لاس کې و. د نیویارک ورلډ له پېرلو وروسته یې په ۱۸۸۷ز کال کې مشهور او تکړه خبریال او محقق نیلي بیلي له ځان سره وگوماره. نوموړی هغه مهال وتلی او مشهور خبریال و. په دې سره یې کار او فعالیتونه اوج ته ورسېدل. دوی یوازې پر همدې کار تمرکز ونه کړ، هڅه یې وکړه چې د بېلو قشرونو لوستونکو لپاره نوي مطالب ولري. د هرې طبقې او هرې ډلې لوستونکي ورسره وي، له همدې امله یې په ۱۸۹۵ز کال کې لومړنۍ امریکایي کمېډي ورځپاڼه هم چاپ کړه. دا ورځپاڼه ډېرو خلکو ته د پام وړ وه، په ډېر کم وخت کې یې د چاپ شمېر له پنځلسو زرو شپږ سوه زرو گڼو ته ورسېد. دا هغه څه وو چې د پولتیزر په مدیریت کې رامنځ ته کېدل. ده غوښتل چارې یې پراخې شي، فعالیتونه یې اغېزناک شي او له دې لارې نه یوازې دا چې پیسې وگټي؛ بلکې د حقیقي ژورنالېزم د پراختیا لپاره گامونه اوچت کړي.

د پولیتزر بریاوې د دې سبب شوې چې ځینو ته خطر پېښ شي او ځینې بیا رخه ورسره وکړي. د هغه پرله پسې بریاوو د ده مخالفین ډېر کړل. دوی هڅه کوله چې په ټولنه کې د پولیتزر موقف او ځای ځایگي ته زیان ورسوي. په دې وخت کې دی له ورځپاڼې لرې و، ناروغ و، خو سره له دې یې هم ورځپاڼه مدیریت کوله او له لرې یې ټولې چارې تنظیمولې. په ۱۸۹۵ز کال کې ویلیام راندولف هرست د نیویارک ژورنال ورځپاڼې امتیاز د پولیتیزر له ورور واخیست. دوی د امریکا او اسپانیا د جگړې خبري پوښښ ته مخه کړه او په دې برخه کې یې رقابت پیل کړ. د پولیتیزر او راندولف د ورځپاڼو تر منځ د ژېړ ژورنالېزم رقابت روان و. دغه جگړه اوږده شوه او په دې منځ کې د دې دواړو ورځپاڼو رقابت هم شدید روان و. جگړه په ۱۸۹۸ز کال کې په هاوانا خلیج کې د یوې امریکایي بېړۍ تر چاودلو او له منځه تللو وروسته پیل شوې وه.

راندولف هڅه کوله چې په دې مسئله کې اسپانیا پړه وبولي او په همدې لړ کې و، چې د وخت ولسمشر د اسپانیا پر ضد د جگړې امر وکړ، خو پولیتیزر خپلې ورځپاڼې او خبریالانو ته د حقیقت د موندلو امر کړی و. ده هڅه کوله جگړه ختمه شي او دا حقیقت روښانه شي چې بېړۍ پخپله چاودلې ده او که نه د اسپانیې لاس په دې پېښه کې شته دی. د دوی پلټنو وښوده چې بېړۍ د خپل ماشین د خرابوالي له امله له منځه تللې ده او چاودنه پکې رامنځ ته شوې.

همدې د نظر اختلاف د دوو ورځپاڼو تر منځ سخت جنگ پیل کړ. پر یو بل به یې تورونه لگول او د یو بل پر ضد یې لیکنې کولې. په پایک کې په ۱۹۰۹ز کال کې تیودور روزولت او جي پي مورگان د سپکاوي او توهین په تور د پولیتزر پر ضد شکایت وکړ. محکمې هم تر اوږدو بحثونو او ناندریو وروسته د پولیتزر ورځپاڼه په څلوېښت میلیونه ډالر جریمه محکومه کړه. خو ورځپاڼې او پولیتزر له خپلو هڅو لاس وا نه اخیست او لا هم د حقیقت په لټه کې وو، تر دې چې په ۱۹۱۱ز کال کې د دوی هڅو او فعالیتونو نتیجه لرله. د څېړنو او تحقیق کمېسیون وویل چې د بېړۍ په پېښه کې دوی په حقه دي او د سپکاوي مسئله هم قصدي نه وه، نو ځکه یې له جرمې برائت ورکړ او دغه تور بېرته واخیستل شو.

پولیتزر په خپل نامه د یوې جایزې بنسټ کېښود. دا په امریکا کې تر ټولو معتبره هنري جایزه گڼل کېږي. د دې جایزې لپاره کتابونه، ژورنالیستیک اثار او نور هنري اثار په پوره دقت انتخابېږي او په هر اړخیزه توگه ارزول کېږي.

جوزف پولیتزر مشهور امریکایي خبریال په خپله خوښه کلمبیا پوهنتون ته ورغی او هلته یې د ژورنالېزم د مسلکي زده کړې ځانگه پخپل شخصي لگښت جوړه کړه. جایزه په لومړي سر کې ۲۵۰ زره ډالره وه، د بورسونو ورکړه یې هم یوه برخه وه. تر مرگ وروسته یې د لومړي ځل لپاره پولیتزر جایزه په ۱۹۱۷ز کال کې وړ کسانو ته ورکړل شوه. اوس هر کال د اپرېل په میاشت کې دغه جایزه ورکول کېږي او د یوه کال په اوږدو کې ځانگړې شوي اثار په سمه توگه ارزول کېږي.

پولیتزر په ۱۹۱۱ز کال کې د جنوبي کارولینا په چارلستون بندر کې ومړ او په نیویارک کې خاورو ته سپارل شوی. یوه خبره د یادولو ده چې د کولمبیا پوهنتون د ده په ژوند د ژورنالېزم څانگه جوړه نه کړه، موافقه یې ورسره ونه کړه، خو تر مرگ یو کال وروسته یې د ده له وصیت سره سم دغه څانگه جوړه کړه. دا اوس د نړۍ په کچه د ژورنالېزم تر ټولو باوري او معتبره څانگه گڼل کېږي چې هر کال د نړۍ تکړه او نوموتي خبریالان ترې فارغېږي.

ده په خپل وصیت کې لیکلي وو چې له خبریالۍ سره بې شانه مینه لري. له همدې امله باید د ده په نامه هر کال څلورو خبریالانو، څلورو د ادبیاتو لیکوالانو، یوه جایزه د ښوونې او روزنې برخې او څلور جایزې د بورسیو په توگه ورکړل شي. اوس دا جایزې ډېرې شوې دي او ډېرو کسانو ته ورکول کېږي. له افغانستان هم د پولیتزر جایزه یوه افغان عکاس مسعود حسیني اخیستې. مسعود حسیني په دې توگه یوازینی افغان دی چې دغه جایزه یې اخیستې ده. هغه د ۱۳۹۰لمریز کال په عاشورا کې تر یوې چاودنې وروسته د قربانیانو انځورونه اخیستي وو چې په نړیواله کچه مشهور شول او ده ته یې د زړور خبریال لقب هم ورکړ.

# امریکا غواړي چې ټوله نړۍ دې د دوی د غلامي وکړي

لیکنه: اعظم منور

ډېره د حیرانتیا وړ خبره دا ده چې امریکا نړیوالو ته د ړندو او کڼو په سترګه ګوري، ځکه یې په یوه او بله پلمه په ټوله نړۍ، په ځانګړې توګه افغانستان او منځنی ختیځ کې داسې اورونه بل کړي او داسې جنایتونه یې کړي چې په بیانولو یې بشریت شرمېږي.
شک نشته چې نن سبا که د نړۍ په هر ګوټ کې اور بل دی، نو د امریکا رول پکې ښکاره دی. دا هغه هېواد دی چې ځان له ټولو نړیوالو قوانینو پورته ګڼي او هېڅ قانون ته ځان تابع نه ګڼي.
که تاریخ ته وکتل شي، نو دا له هېچا پټه نه ده چې امریکا هغه هېواد دی چې د لومړي ځل لپاره یې په ۱۹۴۵ کې د جاپان په هیروشیما او ناکازاکي کې اټومي وسله وکاروله چې تر اوسه په یاده سیمه کې د یادو اټومي بریدونو منفي اثرات موجود دي.
امریکا غواړي چې د ټولې نړۍ خلک باید امریکایي وګړي تر ځان لوړ وګڼي، پر ټوله نړۍ باید واکمني ولري، هېڅوک باید دا جرئت ونه لري چې د امریکا د ډېر غوښتنو او پر نورو د باداري کولو پر وړاندې غږ پورته کړي.
امریکا غواړي پر ټولې نړۍ دا ومني چې امریکا د هرڅه کولو حق لري، دوی باید په اقتصادي، پوځي او سیاسي ډګر کې تر نورو پورته وي او دوی باید د ټولې نړۍ د خلکو باداران او واکداران وي.
دوی باید نورو هېوادونو ته سیاسي، پوځي او اقتصادي خط مشي وټاکي او نور باید د امریکا غوښتنې په پټو سترګو ومني.
امریکا غواړي چې د ملګرو ملتونو سازمان په ګډون، د اټومي انرژۍ نړیوال سازمان، د اټومي وسلو د پراختیا د مخنیوي سازمان، د روغتیا نړیوال سازمان، د جنګي جرمونو نړیواله محکمه او داسې نور نړیوال ارګانونه امریکا ته د امتیاز په ورکولو او برترۍ قایل و اوسي، په دې مانا چې هېڅ شخص او هېڅ ارګان باید امریکا ته ونه وایي چې دا کار دې ناسم دی.
موږ او تاسو د دې شاهدان یوو چې څه موده وړاندې د جنګي جرمونو نړیوالې محکمې په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د جنایتونو په اړه د پلټنې حکم وکړ، خو امریکا نه یوازې د دې محکمې د حکم هېڅ پروا ونه کړه، بلکې د یادې محکمې پر چارواکو یې بندیز ولګاوه.
ټرمپ د جنګي جرمونو نړیوالې محکمې پر مقاماتو بندیز تصویب کړ او له مخې یې په امریکا کې د یادو کسانو شتمنۍ کنګل، یاد کسان او د دوی نږدې خپلوان به امریکا ته سفر نشي کولای.
د ۲۰۱۷ ز کال په نومبر کې د نړیوالې جنایي محکمې یوې څارنوالې له قاضیانو وغوښتل چې په افغانستان کې د جنګي جرمونو په اړه د څار او تعقیب رسمي اجازه ورکړي.
د جنګي جرمونو څېړلو نړیوالې محکمې په ۲۰۰۷ ز کال کې د افغانستان د وضعیت په اړه خپله لومړنۍ ارزونه پیل کړه او تر اوسه یې په سلګونه شکایتونه ثبت کړي.
امریکایي ځواکونو په افغانستان کې ډېر جنایتونه کړي، چې یو یې په ۲۰۱۵ ز کال کې په کندوز کې د بې پولې ډاکټرانو پر روغتون هوایي برید دی، چې د رپوټونو له مخې، د ډاکټرانو، نرسانو او ناروغانو په ګډون یې ۲۲ کسان پکې ووژل.
د جنوا کنوانسیون ۳۵مې مادې له مخې، د جګړې ښکېلې خواوې د ټپیانو، ناروغانو او ملکي وګړو د سرپناه په توګه پر ثبت شوي ځای باندې له مستقیم برید څخه منع دي.
هغه وخت په نړیواله کچه د امریکایي پوځیانو د دغه جنایت د غندنو په نتیجه کې د امریکا د وخت ولسمشر بارک اوباما او په افغانستان کې د مېشتو امریکایي عسکرو قوماندان جنرال جان کمبل اړ شول، چې ښښنه وغواړي او ژمنه یې وکړه چې مجرمین به د قانون منګلو ته سپاري.
خو اوس نه یوازې مجرمینو ته سزا نه ده ورکړې شوې، بلکې امریکا د جنګي جرمونو پر نړیوالې محکمې له دې امله بندیز لګولی چې ولې یې د دوی د جنایتونو د را سپړلو جرئت کړی.
امریکا دغه راز د روغتیا نړیوال سازمان او داسې نورو نړیوالو ارګانونو اصولو ته درناوی نه کوي او آن په ډېرو مواردو کې چې د دوی شخصي ګټه پکې زیانمنېږي، د ملګرو ملتونو مشرتابه ته سترګې برګې کړې او د امنیت شورا په ګډون د ډېرو نړیوالو ارګانونو تصویب شویو پرېکړو څخه په خپل سر وتلې، چې ښه بېلګه یې له ایران سره د اټومي انرژۍ په برخه کې د امنیت شورا له شوي تړون څخه وتل دي او بله بېلګه یې د اسراییلو له خوا د فلسطینیانو په نیواکي سیمو کې د ښارګوټو له جوړولو سره د ملګرو ملتونو له مخالفت سره سره، امریکا په یو اړخیزه او غیر اصولي توګه اسراییل هڅوي او آن ملاتړ یې کوي چې نیواکي سیمې له خپلې خاورې سره په رسمي ډول وتړي.
امریکا سر زوري ده او د خپلو ګټو ساتلو لپاره ځانته هر کار روا ګڼي.
خپلو ګټو ته یې نا روا سرې کرښې جوړې کړې او هېڅ هېواد ته اجازه نه ورکوي چې تر دوی مخکې شي او همدا وجه ده چې که څوک د امریکا د غلامۍ له پړي څخه د سر ایستلو هڅه کوي؛ نو امریکا یې په سر وهي او پورته کېدو ته یې نه پرېږدي.
که څه هم امریکا د وسلو تولید په برخه کې خپل ټول پام د روسیې د پرمختګ مخنیوي ته اړولی، خو په اقتصادي برخه کې بیا چین ته ډېره متوجه ده.
د نړیوالو اقتصاد پوهانو په باور، چین اوس په ټولو برخو په ځانګړې توګه اقتصادي برخه کې نور د امریکا سرې کرښې کرښې ماتې کړې او د پرمختګ سرعت یې دومره چټک دی چې له امریکا څخه به خامخا مخ ته کېږي، نو ځکه یې اوس په ډول ډول پلمو پر چین د لفظي بریدونو او کله کله بندیزونو او ګواښونو ته مخه کړې.
اوس په دې وروستیو کې د امریکا ولسمشر ګواښ کړی چې د لنډو ویډیوګانو شریکولو یوه چیني شرکت بیټ ډانس اړوند د ټیک ټاک په نوم اپلیکېشن چې په عامو خلکو کې یې شهرت پیدا کړی، باید د سپټمبر له ۱۵مې مخکې د دغه هېواد پر شرکت مایکرو سافټ وپلورل شي، که نه په دغه هېواد کې به یې فعالیت بند کړی شي.
د راپورنو له مخې، په ټوله نړۍ کې کابو یو میلیارد کسان له ټیک ټاک اپلیکېشن څخه استفاده کوي.
د امریکا د ولسمشر دا څرګندونې د دغه هېواد په دننه او بهر کې پراخ غبرګونونه راپارولي او چین هم د امریکا دغه اقدام سخت غندلی او خبرداری یې ورکړی چې چاته به د چیني شرکت د غلا کولو اجازه ور نه کړي.
دا به وروسته معلومه شي چې امریکا به د سپټمبر په ۱۵مه خپله پرېکړه عملي کړي او که به شاتګ وکړي؛ خو یو شی چې ډېر روښانه دي، هغه دا چې چین او امریکا چې د نړۍ لوی اقتصادي قدرتونه دي، د دوی تر منځ جنجالونه په ټوله نړۍ په ځانګړې توګه وروسته پاتې هېوادونو پر اقتصادي او تجارتي وضعیت منفي اغېزه کولای شي.

## ويلسن: د سولې بین الافغاني خبرې باید د افغانانو په مشرۍ او مالکیت ترسره شي

په کابل کې د امریکا سفارت وایي چې بین الافغاني مذاکرات باید د افغانانو په مشرۍ او مالکیت ترسره شي.
په کابل کې د امریکا سفارت شازدافیر او سرپرست سفیر راس وېلسن دغه څرګندونې په یوه تازه ویډیويي پیغام کې کړې چې د سفارت په ټویټرپاڼه کې خپور شوی دی.
دا په داسې حال کې ده، چې ټاکل شوې راتلونکې اونۍ د قطر په پلازمېنه دوحه کې د افغان دولت او طالبانو ترمنځ رسمي بین الافغاني مذاکرات پیل شي.
وېلسن د افغان سولې په تړاو د وروستیو پرمختګونو هرکلی کړی او ویلي یې دي چې امریکا غواړي د سولې بین الافغاني خبرې باید د افغانانو په مالکیت او مشرۍ ترسره شي.
نوموړي دغه راز له عامو افغانانو هم غوښتي چې په ټولنیزو رسنیو او نورو وسیلو کې د سولې له پروسې ملاتړ وکړي او په دې تړاو دې خپل نظریات شریک کړي.
وېلسن زیاته کړې چې امریکا په ښکاره توګه د افغانستان مذاکراتي ټیم او ښکېلو لورو ته ویلي چې د سولې په خبرو کې باید د



ټېرو کلونو لاس ته راوړنې وساتل شي، د افغانستان ملي حاکمیت او د ټولو افغانانو حقونو ته درناوی وشي.
دغه امریکایي ډیپلومات همدا راز زیاته کړې، چې دوی د افغانستان د اسلامي جمهوریت ملاتړې دي، له دغه هېواد سره خپلو همکاریو ته ادامه ورکوي او د سولې په برخه کې امریکا د افغان حکومت تر څنګ ولاړه ده.
د هغه په وینا، امریکا د بین الافغاني مذاکراتو له دوو پایلو څخه ملاتړ کوي، لومړی د یوه سوله ییز، خپلواک، متحد او دیموکراټ افغانستان څخه او بله دا چې د تېرو ۱۹ کلونو سیاسي، اقتصادي، او ټولنیزې لاسته راوړنې وساتل شي.
هغه زیاته کړې: «موږ به له دې ورسته هره ورځ د تېرو ۱۹ کلونو لاسته راوړنو معلومات شریکوو او په تېرو ۱۹ کلونو کې چې امریکا څه همکارۍ کړې دي، هغه به خپروو.»
دا په داسې حال کې چې ورمه ورځ لویې جرګې پرېکړه وکړه چې د طالبانو ۴۰۰ زندانیان دې د افغان حکومت له بند څخه ازاد شي ترڅو بین الافغاني خبرو ته لاره هواره شي.

## وکيلان: حکومتي مشران دې خپلمنځي اختلافات ژر تر ژره پای ته ورسوي او نوې کابینه دې بشپړه کړي

د ارګ او سپېدار له سیاسي هوکړې او د ولسمشر غني له نوې کاري مودې میاشتې تېرېږي، خو حکومت لاهم د کابینې پر جوړولو نه دی توانېدلی.
ولسمشرۍ ماڼۍ وایي چې د نوي حکومت د کابینې د معرفي کېدو لپاره د مصالحې عالي شورا رییس عبدالله عبدالله د ونډې نوماند وزیرانو معرفي کېدو ته په تمه دي.
دا په داسې حال کې ده چې ټاکل شوې وه د حکومت نوې کابینې ته د ځینو څېرو د معرفي په برخه کې له اختلافونو وروسته، له لوی اختر وروسته نوماند وزیران به معرفي او له تحصیلي سندونو سربېره کاري سندونه یې د زیاتو ارزونو په موخه ولسي جرګې ته ولېږل شي، خو لا تر اوسه هم د نوې کابینې د جوړېدو څرک نه لیدل کېږي.
ولسمشرۍ ماڼۍ وایي، کله چې د ملي مصالحې د عالي شورا مشر عبدالله عبدالله له ښو معیارونو سره د ځینو کسانو نومونه ولسمشر ته ولېږي، نو ارګ به هم نوماند وزیران ولسي جرګې ته د رایو د ترلاسه کولو په موخه معرفي کړي.
د ولسمشر مرستیال ویاند دواخان مینه پال ویلي: «هر څومره ژر چې زموږ سیاسي شریکان د معیارونو پربنسټ نوملړ شریک کړي، حکومت هغوی د اعتماد رایو ترلاسه کولو لپاره به پارلمان ته ولېږي.»
خو د ملي مصالحې د عالي شورا د مشر ویاند فریدون خوځون وایي، دوی د عبدالله ونډه د نوماند وزیرانو نومونه ولسمشرۍ ماڼۍ ته لېږلي دي.
هغه زیاته کړې: «زموږ له خوا ستونزه حل ده او د نوماند وزیرانو نوملړ چې په موږ پورې اړوند دی، استولی او د هوکړه لیک پربنسټ پر هغه عمل کېږي.»
دا په داسې حال کې ده چې د ارګ او سپېدار ماڼیو د سیاسي هوکړې پر بنسټ، د نیمې کابینې معرفي، د ملي مصالحې د عالي شورا معرفي او د دغې شورا د مشرتابه غړو د پاتې غړو معرفي کول د عبدالله له واکونو دي.
د ولسي جرګې غړی عبدالرووف شپون په دې اړه وایي: «تر ټولو ستر لامل همدا دی چې دغه دوه تنه په خپل منځ کې جوړ نه دي، د والیانو او وزیرانو په هکله سره نه جوړېږي.» هغه له حکومتي مشرانو غوښتي چې خپلمنځي اختلافات دې ژر تر ژره پای ته ورسوي او نوې کابینه دې بشپړه کړي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۱۵ |
| € | ۸۸,۲۰ |
| Rp. | ٤٦٦ |
| ₹ | ۱۰۵۰ |
| ¥ | ۱۰,۵۰ |
| £ | ۹۷ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily



غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com



سه شنبه د ۱۳۹۹ د زمري ۲۱مه | د ۲۰۲۰ د اګسټ ۱۱مه | ۵۷۹یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۵ | ۳۷ | ۳۹ | ۳۷ | ۳۹ | ۳٤ |
| ۱۸ | ۱۹ | ۲۱ | ۲۰ | ۲۲ | ۲۰ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۳۸ | لمر ختل ۰۵:۰۹ | ماسپښین ۱۱:۵۹ | مازیګر ۰۳:۴۳ | ماښام ۰۶:۴۸ | ماخوستن ۰۸:۲۱

## نړۍ




## روند بازگشت مهاجران افغان از پاکستان دوباره آغاز شده است



روند بازگشت مهاجران افغان از پاکستان دیروز دوباره آغاز شده است. قبلاً این روند بخاطر شیوع ویروس کرونا متوقف شده بود.

این را قیصر خان افریدی، سخنگوی کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور مهاجران در اسلام‌آباد، «یوان‌اچ‌سی‌آر» به رادیو آزادی گفته است.

این در حالیست که سلسلهٔ برگشت مهاجران از پاکستان به افغانستان از ماه مارچ بنابر همه‌گیری ویروس کرونا متوقف شده بود.

بر اساس معلومات کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور مهاجران ، از سال ۲۰۰۲ به این سو حدود ۴ میلیون و ۴۰۰ هزار شهروند افغانستان از پاکستان به افغانستان برگشته اند.

این اداره شمار کنونی مهاجران افغان در پاکستان را یک میلیون و چهار صد هزار می‌گوید که به گفته‌اش از این میان ۸۰۰ هزار تن آن‌ها بدون مدرک زندگی می‌کنند.

قابل یادآوریست که در سال های اخیر روندبازگشت مهاجران از کشورهای ایران، پاکستان، ترکیه... سرعت بخشیده است.

## راپورونه: د پاکستان په بېلابېلو ایالتونو کې د سېلابونو له کبله ۵۰ تنه مړه شوي دي



د راپورونو له مخې، په پاکستان کې د وروستیو درنو اورښتونو او سېلابونو نږدې ۵۰ تنه مړه کړي دي.

د دغه هېواد د هواپېژنې ادارې د معلوماتو له مخې، په بېلابېلو سیمو کې سخت موسمي اورښتونه د سېلابونو د راوتلو او خلکو ته د زیان رسېدو لامل شوي دي.

په ورته وخت تر پاکستان ورها خوا په پښتونخوا کې هم دغو اورښتونو او سېلابونو خلکو ته درانه مالي او ځاني زیانونه اړولي دي.

د راپورونو له مخې، د دغو اورښتونو او سېلابونو له کبله په پښتونخوا کې ۱۹ کسان، د پاکستان په سند کې ۱۲ کسان، په ګلګت کې ۱۰ او په پنجاب کې اته کسان مړه شوي دي او ګڼ کورونه او د کرنیزې سیمې هم ویجاړې شوې دي.

په ورته وخت د پاکستان په یوشمېر سیمو کې ملکي حکومت د خلکو د ژغورلو لپاره د یاد هېواد له پوځ څخه د همکارۍ غوښتنه کړې ده.

دغه راز د پاکستان د بېړنیو پېښو پر وړاندې د مبارزې ادارې پر نړیوالو مرستندویو او ژغورونکو بنسټونو هم غږ کړی چې سیمې ته بېړنۍ مرستې ورسوي او د خلکو په ژغورلو کې دې له دوی سره مرسته وکړي.

د یادونې ده چې د پاکستان په بېلابېلو ایالتونو کې هرکال په همدې موسم کې د اورښت کچه ډېرېږي چې له کبله یې ګڼو کسانو ته پر ځاني زیانونو سربېره مالي زیانونه اوړي او پراخې ځمکې ویجاړوي.

MTN *Media release*

MTN

**ام ټي ان افغانستان ټینګار کوي چې له افغانستان څخه وتل به یې په منظم او مسوولانه ډول وي**

ام ټي ان افغانستان وایي چې له افغانستان څخه د وتلو پرېکړه یې په منظم او منځمهالي ډول ده.

د ام ټي ان افغانستان اجرایوي رییس محترم عباد رضا وویل: " موږ خپلو ټولو ذی نفع شریکانو (Stakeholders ) ته ډاډ ورکوو چې له افغانستان څخه به د مناسب پلان او طرحې له مخې ووځو."

نوموړي همدا راز وویل: " تر هغه وخت پورې چې د کمپنۍ په سپارلو کې پرمختګونه نه وي رامنځته شوي، ام ټي ان افغانستان به د ام ټي ان ګروپ د غړي په توګه پاتې کیږي او په عادي ډول به خپلو چارو ته دوام ور کوي، زموږ ژمنه دا ده چې خپلو پیرودونکو ته غوره مخابراتي خدمتونه وړاندې کړو."

ام ټي ان ګروپ چې مرکز یې په جنوبي افریقا کې موقعیت لري، د مشرتابه پلاوي یې ( Board of Directors) د پنجشنبې په ورځ پرېکړه وکړه چې د افریقا اړوند مارکېټونو په ستراتیژۍ( Pan African strategy) باندې په تمرکز سره به په راتلونکي کې غوره مخابراتي خدمتونه وړاندې کړي. چې په پایله کې به له منځني ختیځ څخه چې افغانستان، یمن، سوریه او ایران پکې شامل دي ووځي. ام ټي ان له 2006 کال را پدېخوا غوره مخابراتي خدمتونه وړاندې کوي او د ډېرو کاري ذی نفعانو (Stakeholders ) په لرلو سره خپلو میلیونونو پیرودونکو ته مخابراتي خدمتونه وړاندې کوي.

په تیرو څو کلونو کې ام ټي ان ګروپ په ټولو هغو 21 هېوادونو کې چې خپل مخابراتي خدمتونه پکې وړاندې کوي پر پانګه اچونې کار کړی دی.

ام ټي ان افغانستان ژمنه کوي چې خپلو کاري ذی نفعانو (Stakeholders ) ته د خپلو وتلو په اړه چې په راتلونکو څو کلونو کې به تر سره شي وخت په وخت معلومات ور کوي.

نوټ: ژباړه رسمي نه ده اصلي منځپانګې ته د لاسرسي لپاره انګلیسي متن ته مراجعه وکړئ.

*everywhere you go*